مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت

۲۰۲۱/۱۱/۰۱

# بـابـا آدم (ع)

## بـي بـي حوا

د دوي د ميـنـي په پار
د لوی الله (ج) په حکم
څه ولـولـه پـورتـه شوه
د اولادي پـنـځـيـدل
ته يـې لارپـرانـيستـله
او پـيـلامـه يې داسـې:
د سپينو واورو د يخونو تل کي
د کـنـګلونـو په کـنـډو ـ کـنـډو کې
د تورو غرونو لوړو څوکو سر کي
د سـمـنـدر د زړه په پټ ګوګل کـې
د خړې زمکې په وچ کلک تـټـر کې
له سـپـيـرو خاورو ګـلان وټـوکـيـدل
تياره رنا شوه، څه عطريني وږمی راغلي
د شـپـې سـتـورو سـتـرګـکـونـه وکـړل
او سـپـوږمـی خـيـلـې طـلايي څـنـې
پـر شـپـې خـپـرې کـړې
د ميني ځواک کې، زمکي يون وکړ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د لمر پر راتـِول شوي مدار وګـرځيده

او شوې ځلانده وړانګې شپول د زمکې

چې ترې څلور فصلونه وپـنـځـيـدل

د ګلبڼونو منځ کې شور پورته شو

بيا د بلبلو د نغمو په زوږ کې

دې ولولو د مينې مستې غزونې وکړې

سهارنۍ پرخې، د ګل نازک مخونه پريولل

او پيلامه د دې ځواکمن انسان د ژوند شوله

د مـيـنـې پـه نـوم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ